# علم الکلام څه ته وايي

د عقلي استدلال له لاري د مذهبي عقايدو اثبات اود ديني احکامو عقلي جواز د علم الکلام موضوع ده، په نورو ټکيو کښې علم الکلام هغه پوهه ده چې د دليل سره سم مذهبي اصول او باورونه وړاندې کوي يعني د فطرت او په پراخه کچه د مذهبي عقيدې سستمپټيک مطالعه ده .

## د علم الکلام د مطالعې ګټې

:

د علم الکلام له لاري زدکونکې بېلابېل مهارتونه زده کوي لکه انتقادي فکر کول،روښانه ليکل،د ستونځې حل کول او د ټولنيز او تاريخي رجحاناتو تحليل او د انسان تجربه معاينه کوي .اودا چې څنګه بېلابېل خلګ او کلتورونه دا څرګندوي .

# علم البديع

د علم البديع لغوي معني ده جوړول، ځانګړې او نادر. په اصطلاح کښې علم البديع هغه علم ته وايي چې د کلام ښايست پرې معلوميږي يعني عم بديع هغه قاعدې دي چې که چيري هغه په يو کلام کښې په کار راوستی شي نو په کلام کښې به حسن پيدا شي .د کلام دغه ښايست په درې څيزونو جوړيږي ١.قواعدصرف و نحو٢.علم بديع،٣.علم بيان . هم دارنګه علم بديع دوه قسمونه دي يو صنايع لفظي يعني لفظي ښايست او بل صنايع معنوي يعني معنوي ښايست ويلای شو .دا په نظم او نثر دواړو کښې کېدای

شي خو په نظم کښې د نثر په نسبت ډېراهميت لري .يا په کلام کښې د لفظونو ښايست ته صنايع لفظي او په مفهوم او معنو کښې اثر او حسن ته صنايع معنوي وايي .

صنايع لفظي : صنايع لفظي ډېر قسمونه لري چې په لاندېني ډول يې راوړو
.

ا.صنايع تجنيس : د دې معنا دا ده چې په کلام کښې دوه داسي لفظوونه راوړل چې په تلفظ کښې يو شان وي او معنې يې بېلې وي و دې ته تجنيس ويل کيږي .لکه ستا د غم راسره غم دی په دې کښې يو غم د غم په معنا او بل غم د سودا او فکر په معنا کارول شوی دی يا په کلام کښې داسي دوه لفظونه چې د تلفظ په لحاذ يو شان وي مګر د ليکلو اومعنا لع مخې توپير لري له صبا او سبا لکه د حمزه بابا دا لاندينی شعر.

حســــــــــــنه بې دې بدل نشه

ته که بدليږې زه بدل نه شومه

بدل دوه ځله راغلی دی چې يو ځل د ثاني په معنا دی او دويم ځل د بدلون په معنا کارول شوی دی . يا د حنان بارکزيي دا شعر .

صــــبا به د ســــبا په لور لښکر د سلېمان ځي

سړي به وي د مخه او په شا کې بې دېوان ځي

صنايع معنوي: په کلام يا شعر کښې داسي لفظونه راوړل چې د يو بل ضد وي لکه خندا او ژړا، ژوند او مرګ، ورځ او شپه . داسي صنعت ته تضاد ويل کيږي . د قلندر مومند دا شعر په دې مثال کښې راوړو .

ستا په کچه وعدو مي ولي اعتبار کولو

لاړه شپه په پخېدو شوه ته به کله راځې

دلته په دې پورتني شعر کښې کچه او پخه دوه متضاد توري دي .

د انځور شعر په دې مثال کښې راواړ.

له حيا نه يې سپين مخ ته کتاى نه شم

داســـي و ګڼه وصال کښې په سفر يم

مينه او مننه

عبدالصمد جلالزی